# د سراج الحق د زړۀ اواز

كمال الدين كمالي

د جماعت اسلامي امير ښاغلي سراج الحق د خپل زړۀ اواز په خپل جدا انداز كښې يو ځل بيا اوكړو. نوموړي اوئيل چې بدعنواني د داعش، القاعده او ترهګرۍ نه زياته خطرناكه مسئله ده.

پاكستان كښې چې كله هم د ترهګرۍ څه پېښه اوشي نو سراج الحق او د دۀ په شان نور سياسي او غير سياسي عناصر د خلقو پام د ترهګرۍ نه بل اړخ ته اړولو دپاره څه بله شوشه پرېږدي. دې كښې هيڅ شک نشته چې بدعنواني (Coruption) د ملک يوه اهمه مسئله ده او د دې نه مخ اړول به د بدعنوانۍ مرسته كول وي. خو ترهګري هم د نظر انداز كولو نۀ ده ځوک چې د ترهګرۍ نه د خلقو پام بل اړخ ته اړوي هغوي د ترهګرۍ (Terorism) ملګرتيا كوي.

كه چرې مونږ بدعنواني يا غلا غلتي واخلو نو دا يو مالياتي جرم دے. او چا نه چې د دې جرم كولو طمع كېږي هغه معلوم دي. يعنې د دې جرم شكمن كسان هغه حكومتي افسران يا وزيران دي چا سره چې مالياتي اختيارات وي. او دا خلق پټ نۀ دي.

كه چرې په دوي رسا نظر اوساتلے شي نو په دوي قابو بيامونډل څه ګرانه نۀ ده. بله دا چې د دوي خلاف د ملک فوځ يا سيكورټي ادارې څه جنګي كاروائي نۀ كوي او نه د دې ضرورت شته. كه چرې يو كوټلے او د عمل جوګه نظام موجود وي نو په بدعنوانيو قابو راوستل اسان دي. د دې په مقابله كښې كه ترهګري،داعش،القاعده يا نور انتها خوښي تنظيمونه په نظر كښې اوساتلے شي نو دا پټ دي. دوي په حكومتي چوكو ناست هم كېدے شي. فوځي او سول افسران او كاركنان هم كېدے شي. دوكاندار، مزدور، دهقان،چپړاسي او بابو باندې هم شک كيدے شي. عالم دين،د سكول او كالج استاذ او يو ځيړنكار هم مجرم كېدے شي. دا خلق نېغ په نېغه د ملک فوځ سره جنګېږي. په تعليمي ادارو حملې كوي. بازارونو او كارخانو كښې د خپل جرم ارتكاب كوي. دوي د ملک په شتۀ منيو حملې كوي. خلق تښتوي او په سر ئې د پېسو مطالبه كوي. بېنكونه تالا كوي. د شتۀ منو خلقو نه قلنګونه اخستل د دوي د فنډ جمع كولو غټه ذريعه ده. شام او عراق كښې دوي د تېلو په كويانو قبضې كړي دي. د دوي غټ مقصد د متعلقه ملک واک خپلو لاسو كښې اخستل دي او بيا د اسلام په نامه هلته خپل نظام جاري كول دي. د دې ټولو حقيقتونو په رڼا كښې كه ځوک د سراج الحق صيب ترجيح اومني نو دا په اصل كښې د ترهګرۍ او مذهبي انتها خوښۍ مرسته ده. د سراج الحق صيب بيان داسې ښكاري چې لا خو د دۀ د زړۀ اواز دے او لا دا بيان دۀ د چا په لمسه يا اشارو وركړے دے. ګني ترهګري د ملک اولنۍ غټه مسئله ده چې د بلې مسئلې سره ئې ګډول د دې مرسته كول دي.